امنیت شورا

ویش: عمومي
د ۲۰۲۱ کال د سپټمبر ۱۷

## ۲۵۹۶ (۲۰۲۱) پریکړه لیک

**د ۲۰۲۱ کال د سپټمبر پر ۱۷ د امنیت شورا په ۸۸۶۲ غونډه کې د امنیت شورا له خوا تصویب شوی**

**د امنیت شورا،**

د افغانستان په اړه د خپلو پخوانیو پریکړه لیکونو په یادولو سره، په ځانګړي توګه د 2543 (2020) پریکړه لیک چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه ماموریت (یوناما) ماموریت د ۲۰۲۱ کال د سپټمبر تر ۱۷ نیټې پورې غځوي،

په هغه مهم رول ټینګار کولو سره چې ملګري ملتونه به هغه ته په افغانستان کې د سولې او ټیکاو د ترویج د کچې د لوړولو لپاره دوام ورکړي،

د افغانستان حاکمیت، خپلواکۍ، ځمکنۍ بشپړتیا او ملي یووالي پر ورانديز د خپلې قوي ژمنې او همدا راز د افغانستان د خلکو لپاره پر دوامداره ملاتړ بیا ټینګار کوي،

د یوه ټول شموله او د خلکو د استازي په توګه حکومت د جوړیدو پر اهمیت ټینګار کولو سره، د ښځو د بشپړ، مساوي او معنی لرونکي ګډون اهمیت، او د ښځو، ماشومانو او اقلیتونو په ګډون د بشري حقونو پرساتلو باندې ټینګار کوي،

افغانستان ته د بشردوستانه مرستو رسولو لپاره د قوي هڅو اړتیا او پدې برخه کې د ملګرو ملتونو مهم همغږي رول پیژندلو سره ، او بیا ټینګار کوي چې د بشردوستانه مرستو اغیزمن رسول لپاره ټولو اړخونو اړ دي چې د ملګرو ملتونو بشردوستانه ادارې او نور بشردوستانه ارګانونو ته د بشري لاسرسي بشپړ، خوندي او بې له محدودیته اجازه ورکړي.

د هغو چارو په شمول چې د امنیت شورا کمیټې لخوا د ۱۲۶۷ (۱۹۹۹) ۱۹۸۹ (۲۰۱۱) او ۲۲۵۳ (۲۰۱۵) پریکړه لیکونو سره سم موظف شوي، په افغانستان کې د تروریزم سره د مبارزې اهمیت بیا تاییدولو ، او ډاډ ترلاسه کولو سره چې د افغانستان خاوره باید د ګواښ یا برید لپاره د هیڅ یو هیواد پرورانډې ونه کارول شي، د ترهګریزو فعالیتونو پلان کول یا تمویل کول ترسره نه شي ، یا ترهګرو ته پناه او روزنه ور نه کړل شي، او دا چې هیڅ افغان ډله یا فرد باید د ترهګرو ملاتړ ونه کړي چې کوم بل هیواد په خاوره کې فعالیت کوي،

۱. د عمومي منشي د ۲۰۲۱ کال د سپټمبر د ۲ نیټې د راپور هرکلی کوي؛

۲. د افغانستان د خلکو د ملاتړ لپاره د ملګرو ملتونو د اوږدمهاله ژمنتیا لپاره خپله مننه څرګندوي او د یوناما او د عمومي منشي ځانګړي استازي له کار څخه خپل بشپړ ملاتړ بیا تکراروي؛

۳. د ۲۰۲۲ کال د مارچ تر ۱۷ نیټې د یوناما ماموریت د غځولو پریکړه کوي، لکه څنګه چې د یاد سازمان د ۲۵۴۳ (۲۰۲۰) پریکړه لیک کې تعریف شو؛

۴. په ټول افغانستان کې د یوناما او د ملګرو ملتونو د نورو ادارو، صندوقونو او برنامو د دوامداره حضور پر حیاتي اهمیت ټینګار کوي، او له ټولو افغان او نړیوالو اړخونو څخه غوښتنه کوي چې د یوناما سره د خپل ماموریت په تطبیق کې همغږي شي او د ملګرو ملتونو او اړوند کارمندانو امنیت، خوندیتوب او د تګ راتګ په ټول هیواد کې تضمین وکړي؛

۵. د عمومي منشي څخه غوښتنه کوي چې د وروستیو سیاسي، امنیتي او ټولنیزو پرمختګونو په رڼا کې د یوناما د ماموریت لپاره د ستراتیژیک او عملیاتي وړاندیزونو په اړه د ۲۰۲۲ د جنوري تر ۳۱ نیټې پورې امنیت شورا ته یو لیکلی راپور وسپاري، د عمومي منشي څخه غوښتنه کوي چې شورا ته د ۲۰۲۲ کال د مارچ تر میاشتې پورې په افغانستان کې د وضعیت او د یوناما د کار په اړه هره یوه میاشت وروسته (هره بله میاشت) لنډ معلومات ورکړي؛

۶. پریکړه کوي چې موضوع په فعاله توګه د خپل کار په دستور کې وساتي.